مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (نهه شپیتمه برخه)

### فضل محمد مجددي

شمس المشایخ، همدا شان د شاه آغا په نوم هم شهرت لري د شور بازار له حضرتانو څخه دئ چي د خیل پلار قیوم جان آغا ځای ناستی دئ. ویل کېږي چي د اعلیحضرت امان الله خان ملاتړی پاتې سوی دئ. د افغان – انګلیس د دریمي جګړې په لړ کي له جنرال محمد نادر خان سره مل او یو ځای وو او امیر امان خان ورته ددهٔ د خدماتو په بدل کي رالغوی[1] خمکي ورکړې. د رمیا جان، محمد معصوم په نوم ئې یو زوی درلود. کورنی ئې اوس د مجددي په نوم یادېږي. په ۱۹۲۴ز کال کي د ۴۳ کالو په عمر په شوربازار کي وفات سو.

### فضل عمر مجددي

شمس المشایخ، مجددي، همدا شان د شیر آغا جان په نوم هم شهرت لري. په کابل کي میشت د سرهند د پیرانو د کورنی یو غړی دئ. د حضرت صاحب شوربازار قیوم جان آغا زوی دئ. په ۱۹۲۴ز کال کي د خپل مشر وروز شمس المشایخ شاه آغا له وفات وروسته ئې د شوربازار د حضرت صاحب نورالمشایخ لقب قبول کړ، اخیر الذکره د خپل پلار د لقب ځای ناستی سوی وو. په ۱۹۲۶ز کال کي مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړ. په ۱۹۲۴ز کال کي د پخواني پاد شاه د امیر امان الله خان په امر له افغانستان څخه اخراج سو او د ۱۹۲۶ز کال د مارچ په میاشت کي له شمال – لویدیځ ولایت رپېښور- ژ څخه هم د باندني امنیت د مقرراتو[2] پر بنسټ چي د امان الله خان پر ضد ئې تبلیغات کول وایستل سو. د ۱۹۲۸ز کال د سپتمبر په میاشت کي امان الله خان ورڅخه وغوښتل چي بېرته افغانستان ته راستون سي خو فضل عمر ونهٔ منله. د اعلیحضرت امان الله له عزل وروسته دی د سویل ولایت ته لاړ. او د نادر شاه ملاتړی سو. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر په میاشت کي د عدلیې د وزیر په توګه وګومارل سو. د ۱۹۳۰ز کال د جولای په میاشت کي د غزني د سیمو د ملکي او پوځي د اعلی والي یا رئیس تنظمیه په توګه وګومارل سو او د آګست د میاشتې په پای کي بېرته کابل ته راغی. د جون په میاشت کي لور ئې د هرات د جغرتان له حضرت صاحب، فضل احمد مجددي سره وادهٔ وکړ. د ۱۹۳۱ز کال د ډسمبر په میاشت کي ئې خپله استعفی وړاندې کړه او د وزیر په توګه کار ئې خوشي کړ. خو استعفی

[1] - Alghoi : فکر کوم دا ځمکي په ناور یا ورَس کي دي. – ژ

[2] -Foreign Security Regulations



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ئـي د ۱۹۳۲ز کال د دسمبر تر میاشتې پورې ونـهٔ منل سوه. د ۱۹۳۵ز کال د فبروری په میاشت کې ئـي له سرهند ځخه لیدنه وکړه، بیا په ۱۹۴۳ کې هلته لاړ او له دې وروسته په منظم ډول هر کله ور روان وو. په افغانستان کې د الهیاتو د لومړني پوهنځي بنسټ ئـي کېښـېښود چې نور المدارس نومـېدهٔ. د ۱۹۳۶ز کال د مارچ په میاشت کې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ورته په قلعـهٔ جواد او چهاردهي کې یوه کلا او ۷۰ جریبه ځمکه ورکړه. د ۱۹۵۶ز کال د دسمبر په دوهمه نـېټه په قلعـهٔ جواد کې وفات سو. زوی ئـي محمد ابراهیم مجددي چې د پیر پاچا په نوم هم یادېږي د حضرت صاحب ضیاء المشایخ لقب قبول کړ. دوه زامن لري : فضل عثمان ‹صدر المشایخ› او محمد ابراهیم.

## غلام حسن مجـددي

د کاشغر د میر برهان الدین مجددي زوی. د امریکا د متحده ایالاتو د کولمبیا په پوهنتون کې ئـي د ښووني او روزنـي/ تعلیم او تربیې په برخې کې تحصیلات کړي دي او هم ئـي په ۱۹۵۶ز کال کې په همدې ډګر کې په ایران او تورکیې کې زده کړې کړي دي. د کابل د دارالمعلمینو مدیر. د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې پوهیالی او وروسته پوهاند. د ښووني او روزني پوهاند. د ښوونکو د روزني د انستیتیوت رئـیس. او ښووني او روزني د پوهنځي رئـیس. د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي رئـیس. د میرزا عبدالقادر بیدل د شاعرۍ په اړوند د یوهٔ کتاب په ګډون د ګڼ شمـېرو نورو کتابونو لیکوال. په ۱۹۸۵ز کال کې وفات سو. په قاهر کې د اسلامي او افغاني ولسي لیګ د افغان بیرو مدیر.

**فضل رحیم مجددي** : وګورئ : میا جان آغا ‹د معصوم په نوم هم یادېږي›

## عنایت الله مجددي

په ۱۹۲۴ز کال کې د جرم په قلعـهٔ ګنبد کې زېږېدلی دئ. د غازي له لیسي ځخه فارغ او په دارالمعلمینو کې ئـي دینیات یا اسلامي شریعت لوستي دي. په ۱۹۳۸ز کال کې د غازي د لیسي ښوونکی. د ولسي جرګې د نهمي دورې غړی. په ۱۹۵۵ز کال کې د جرم ښاروال. د بدخشان له جرم ځخه د ولسي جرګې غړی.

## عزت الله مجددي

د مـحـمـد معصوم ‹میاجان› مجددي زوی او د صبغت الله مجددي کشر ورور په ۱۹۲۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د حـبـیـبـیې له لیسي ځخه فارغ سو او په ۱۹۵۱ز کال کې د حقوقو او اقتصاد له پوهنځي ځخه فارغ سو. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۱ز کال پورې په کابل کې د لاریونونو یا مظاهرو مشر. د کانونو او صنایعو په وزارت کې د ترانسپورت مدیر. د دولتي انحصاراتو د پطرولیم د ویش عمومي مدیر. د ډېرې مودې لپاره بې کاره وو. پـېـښـور کې له خپل ورور صبغت الله مجددي سره یو ځای سو او د ځلور کالو لپاره ئـي د مجاهدینو لپاره کار وکړ. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۳ز کال پورې په سعودي عربستان کې د اسلامي اقتصاد مدرس. وروسته کالیفورنیا ته کډه سو او اوس په ‹سَوت بې›[3] کې د اسلامي مرکز امام دئ. د عبدالحق نوابي له لور سره ئـي وادهٔ کړی دئ او ځلور زامن لري : عبدالرحمن، روح الله، ولي الله او امین الله.

[3] -South Bay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد میا حسین مجددي

د برهان الدین زوی او د (کاشغر د مجددیانو) د غلام حسن مجددي ورور په ۱۹۱۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې په ښوونځي کې ئـې زده کړې کړي دي. د «آریانا انسایکلوپیدیا» [4] بنسټ ایښودونکی. د دارالمعلمینو مدیر. د آریانا انسایکلوپیدیا رئیس. د مالیې په وزارت کې د گمرکاتو رئیس. د سروبي د برېښنا د تولید د بټۍ د جوړولو د پروژې رئیس. د کابل د الکتریک کمپنی رئیس. د خوراکي توکو او د عامه اړتیاوو د ریاست رئیس. د څلوررو کلونو لپاره سناتور وو.

## میا جان آغا مجددي یا معصوم ثاني

د فضل رحیم په نوم پېژندل کېږي. دی د حضرت شور بازار، د (شمس المشایخ) شاه آغا چې د محمد معصوم په نوم هم پېژندل کېږي، زوی دئ او په ۱۸۹۶ز کال کې زېږېدلی دئ. مېرمن ئـې د (سردار محمد عثمان د زوی) د غلام فاروق عثمان خور ده. د ۱۹۲۵ز کال د جون په میاشت کې د شاه آغا په مړیني سره د شاه آغا ناسکه ورور فضل عمر د «نور المشایخ» لقب د خپل ځان کړ، سره له دې چې ددې لقب مستقیم مدعی میا جان وو او دهٔ ته باید رسېدلی وای. نوموړي په یوې اعلامیې کې د ۴۰۰ ملایانو لاسلیکونه راټول کړي ول او اعلان ئـې کړی وو چې د امان الله خان اصلاحات له اسلام سره په تضاد کې دي. له محمد صادق آغا (چې د آغای گل صاحب په نوم هم یادېدهٔ) سره یو ځای په دې موخه د خوست پر خوا لاړ چې د امیر امان الله خان پر ضد بلوا راوپاروي. دواړه ونیول سول د ۱۹۲۸ز کال په سپتمبر کې کابل ته راوستل سول. څو موده وروسته له بنده آزاد سول او میا جان آغا د ۱۹۲۸ز کال د دسمبر په میاشت کې تگاو ته په دې هیله واستول سو چې د حبیب الله کلکاني یو شمیر پیروان ورڅخه جلا کړي. میا جان د ۱۹۲۹ز کال د جنوری په میاشت کې پر کابل باندې د حبیب الله کلکاني د دوهم برید په لړ کې له حبیب الله کلکاني سره په اړیکه کې وو. وروسته میا جان د حبیب الله کلکاني، سردار عنایت الله سراج او د برتانیې له سفارتي استازي سره په اړیکه کې وو او د منځگړي کار ئـې کاوهٔ چې برتانویان دې عنایت الله د هوا له لارې پېښور ته وباسي. د ۱۹۳۳ز کال د فبرورۍ په میاشت کې مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړ. وروسته د میا جان په نوم یاد او په کندهار کې ئـې تر هغو ژوند وکړ چې په ۱۹۳۵ز کال کې هرات ته ولېږدول سو. په ۱۹۷۱ز کال کې په لاهور کې وفات سو او په کابل کې ښخ سو. دی د صبغت الله، عزت الله، قدرت الله، اسدالله، خلیل الله، رحمت الله، حشمت الله، عنایت الله، ذکرالله (په ۱۹۷۹ز کال کې په پېښور کې ووژل سو)، عزیزالله، عطاء الله، نعیم الله، حبیب الله او حمیدالله مجددي پلار وو.

## ډاکټر محمد هاشم مجددي

(په مصر کې د افغان سفیر) محمد صادق زوی په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په تحصیلاتو کې ئـې : د مصر د قاهرې د الازهر له پوهنتون څخه په اسلامي شریعت کې دکتورا هم شامله ده. د معارف د وزارت غړی او د غازي، استقلال او حبیبیې په ښوونځیو او دارالمعلمینو کې ئـې خدمت کړی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د حبیبیې د لیسې مدیر. په ۱۹۴۷ز کال کې د حقوقو او اقتصاد د پوهنځي رئیس. په ۱۹۴۸ز کال کې د صدراعظم سلاکار. په ۱۹۵۵ز کال کې د مسلکي تحصیلاتو مرستیال رئیس. په ۱۹۶۴ز کال کې د لویې جرگې غړی. په ۱۹۷۴ز کال کې

---

4 -Ariana Encyclopedia



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سناتور. په ۱۹۷۸ز کال کې په لاهور کې د سعودي کلتوري استازی. د آریانا په انسایکلوپیدیا کې د څو مقالو لیکوال. په عربي په فصاحت خبرې کوي.

## محمد ابراهیم مجددي

د شیر پاچا په نوم هم یادېږي. په ۱۹۵۶ز کال کې د خیل پلار فضل عمر ځای ناستی سو او د مجددیانو د ټبر مشر سو. د ۱۹۷۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال د خپلې کورنۍ د نورو نارینه وو غړو په ګډون زنداني سو او ویل کېږي چې اعدام سول.

## محمد اسمٰعیل مجددي

د شیر پاچا محمد ابراهیم زوی. د ۱۹۷۹ز کال د جنوري په میاشت کې له خپل پلار سره ونیول سو او اعدام سو.

**نور بیا**

## محمد عمر جان مجددي

د حضرت صاحب غلام صدیق زوی. له ۱۸۸۰ز کال مخکې په پنجوایي کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ